هفته‌نامه
دهقان

## معیاري کرنه؛ نړیوال بازارته لاس رسی
## زراعت معیاری؛ دستیابی به بازار جهانی

هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدوبیست‌وچهارم ▪ شنبه ▪ ۲۰جدی ▪ ۱۳۹۹



## پکتیا کې د جلغوزیو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه

دریم مخ



## لوګر کې د کرکیلې د لارو چارو بدلون؛ لړه ځمکه ډېر حاصل

۷



## درآمدزا شدن تپه‌های خاکی با ساخت باغ‌های جدید

۳

## دبڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا سکټوري پروژه د تل زرغون (سټروسو) ۱۹۹ بڼونه جوړوي



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په څلورو ولایتونو کې، د تل زرغون (یاسټروسو) متراکم بڼونه جوړوي، چې ددغو بڼونو د جوړولو چارې د اسیایي پراختیایي بانک په ملاتړاو د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا سکټوري پروژې له لارې پر مخ وړل کیږي.

ددغو متراکمو بڼونو جوړول، د کرنې وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا سکټوري پروژې (HVCDSP)یو له برنامو څخه دی، چې د ۱۴۰۰ام مالي کال په پلان کې یې په پام کې نیولی دی.

دغه بڼونه تر ډېره په هغو ولایتونو کې چې د سټروسو ونو لپاره مناسبه اوبه او هوا لري جوړیږي. په همدې موخه ددغو بڼونو جوړولو په پار د ننګرهار، لغمان، خوست او کونړ ولایتونه ټاکل شوي دي. د اسیایي پراختیا یي بانک (ADB) په تمویل او د کرنې وزارت له خوا د سټروسو د ۱۹۹ جریبه متراکمو بڼونو له ډلې ټاکل شوې، چې ۵۰ جریبه یې په ننګرهار، ۵۰ یې په کونړ، ۴۹جریبه یې په لغمان او ۵۰ جریبه یې په خوست کې جوړ شي.

## دست‌آوردهای عمده‌ی ریاست زراعت بلخ در سال ۱۳۹۹

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت بلخ، در سال مالی ۱۳۹۹، برای پیش‌برد فعالیت‌ها و برنامه‌های انکشافی خود ۳۲۷ میلیون و ۲۲۶هزار و ۳٦ افغانی بودجه داشت که ۲۸۷میلیون و ۵۸۸ هزار و ۹۸۲ افغانی آن شامل بودجه پروژه‌های مربوط به برنامه مدیریت محصولات زراعتی و متباقی آن به دیگر بخش‌های انکشافی تعلق داشت.

با استفاده از این بودجه، در سال مالی ۱۳۹۹، هجده سردخانه صفر انرژی در چهارده ولسوالی بلخ از طریق برنامه مدیریت محصولات زراعتی با ده درصد سهم دهقانان ساخته و هم‌چنین ٦۵ دستگاه سولری خشک‌کننده میوه‌جات و سبزیجات توزیع شده است.

تطبیق برنامه‌ی تنظیم منابع طبیعی به اشتراک جامعه که شامل ایجاد چهار انجمن چراگاه و نباتات طبی، احیای ۴۰۰ هکتار زمین‌های للمی برای کشت هینگ، تهیه ۴۰۰ بسته‌ی ارزش‌افزایی هینگ و برخی برنامه‌های کوچک دیگر که ارزش مجموعی آن پنج میلیون و ۹۹۴ هزار و ۱٦۰ افغانی می‌شود، نیز از جمله فعالیت‌های ریاست زراعت بلخ است.

احیای فارم‌ها و توسعه‌ی جنگل‌داری به منظور تولید نهال، از طریق این پروژه ۱۰ جریب قوریه احیا و حفاظت شده، تنظیم همه‌جانبه چراگاه‌ها و تثبیت ریگ‌های روان جهت پوشش نباتات، آب و خاک با هزینه‌ی پنج میلیون و ۷۷۱ هزار و ۵۵٦ افغانی و توسعه کشت زعفران و پنبه نیز شامل این فعالیت‌ها می‌شود. این فعالیت‌ها شامل ساخت ۱۰ مزرعه‌ی نمونه‌یی و استندرد زعفران در مرکز و ولسوالی‌های بلخ با هزینه یک میلیون و ۲۸۰ هزار افغانی، احیای مجدد فارم نسل‌گیری گوسفند و بز به ارزش ۱۲ میلیون افغانی از اقدامات دیگر است.

ایجاد مزرعه‌ی نمایشی غله‌جات، افزایش سطح تولیدات زراعتی گندم از لحاظ کمی و کیفی مطابق به معیارهای جهانی، بهبود و انکشاف عرضه خدمات صحت حیوانی، اکمال و تجهیز فارم‌های تحقیقاتی، ساخت کلکسیون میوه، جلوگیری از فاسد شدن محصولات زراعتی از جمله پروژه‌های انکشافی و اختیاری ریاست زراعت ولایت بلخ است که همه‌ی آن‌ها را تطبیق کرده است. قابل یادآوری است که سازمان‌ها و موسسات ملی و بین‌المللی نیز در سال روان فعالیت‌های زیادی را در عرصه زراعت در ولایت بلخ تکمیل کرده است. این پروژه‌ها در ۱۴ ولسوالی این ولایت تطبیق شده است.

## به ۵۰۰ خانم در نورستان زمینه‌ی کار فراهم شد



مسوولان در ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت نورستان می‌گویند که برای ۵۰۰ تن از بانوان در این ولایت، در بخش زراعت، زمینه‌ی کار فراهم شده است.ریاست زراعت نورستان می‌گوید که در این ولایت برای ۵۰۰ زن با ساخت باغچه‌های خانه‌گی، توزیع وسایل گل‌خانه‌داری، توزیع تخم سبزیجات مختلف و آموزش‌دهی روش‌های کشت گل‌خانه‌ای و پروسس محصولات آن، زمینه‌ی کار برابر شده است. در همین حال از سوی ریاست زراعت نورستان برای این خانم‌ها مهارت‌های کشت و برداشت زعفران و کشت ترکاری آموزش داده شده است تا آنان بتوانند با کار در بخش زراعت، از خانه نیازهای خانواده‌شان را رفع کنند. هدف از توزیع باغچه‌های خانه‌گی به میان آوردن مصونیت غذایی، رشد اقتصاد خانواده‌های تهی‌دست روستایی، کاهش فقر و فراهم‌سازی زمینه‌ی کار برای زنان است.

## گپ دهقان

### جلغوزه، امیدی برای حفاظت از جنگل‌ها

در سه سال اخیر، جلغوزه به محراق توجه حکومت بدل شده است. افتتاح فابریکه‌ی پروسس جلغوزه‌ی رحیم گردیزی گروپ، نشانه‌ی ادامه توجهات به جلغوزه، این محصول پردرآمد افغانستان است. وزارت زراعت، آبیاری و مالداری سالانه هزاران هکتار جنگل جلغوزه را احیا می‌کند و به انجمن‌های حفاظت از جنگل‌ها، کمک می‌کند تا این منابع درآمدشان را گسترش دهند. هم‌چنان در سه سال پسین، برنامه‌های حکومت برای مدیریت جلغوزه، نتیجه‌های بلند و بنیادی‌ای به دنبال داشت. در پی تلاش‌های رییس جمهور محمداشرف غنی، فرمان جلوگیری از قاچاق جلغوزه صادر شد، دهلیز هوایی توسط ده‌ها شرکت به صادرات جلغوزه آغاز کرد و این زمینه‌های توسعه‌ی اقتصادی، باعث رشد بهتر سرمایه‌گذاری‌ها در این زمینه گردید.

در سال ۱۳۹۸، در مجموع یک هزار و ۶۷۹ متریک تن جلغوزه به ارزش ۱۸ میلیون دالر امریکایی و در نُه ماه سال ۱۳۹۹ ۷۵۴ متریک تن جلغوزه به ارزش ۱۰.۶ میلیون دالر به کشورهای مختلف صادر شده است.

در ۱۳۹۸ جلغوزه‌ی افغانستان به چین حدود یک هزار و ۶۴۸ متریک تن، به هندوستان ۱۴ متریک تن، به امارات ۱۶ متریک تن و نیز به سایر کشورها، یک متریک تن صادر شده است.

در کنار این‌ها، وزارت زراعت همواره در تلاش توسعه‌ی منابع طبیعی و به ویژه جنگل‌های جلغوزه، پسته و چهارمغز است. در همین راستا، از انجمن‌های جنگل‌داری حمایت می‌کند و برنامه‌هایی را برای رشد جنگل‌زارها عملی کرده است.

به طور نمونه، توزیع جواز مدیریت جنگل برای ۱۰۰ انجمن جنگل‌داری فعال در بخش جلغوزه، تاسیس یک هزار و ۷۶ قوریه خانه‌گی در خوست، پکتیا و پکتیکا (به ظرفیت تولیدی ۶ هزار نهال در هر قوریه) برای تولید نهال‌های جلغوزه و چهارمغز، احیای ۴۰۵ هکتار جنگل جلغوزه از طریق بذر مستقیم در مشارکت جوامع محلی در ولایت پکتیکا، ۱۱۰ هکتار در لوگر، و ۱۰۰ هکتار در نورستان؛ آموزش‌دهی به دو هزار و ۱۷۶ تن از اعضای جوامع محلی در رابطه به احیا، حفاظت، بهره‌برداری مناسب و ارزش‌افزایی محصولات جلغوزه و چهارمغز در سطح محلات، ایجاد شغل دایمی برای یک هزار و ۹۸ فامیل در ولایات متذکره با تطبیق پروژه‌های یادشده، ایجاد ۱۳۳ هزار روز کاری برای تطبیق پروژه‌های پرورش جنگلی، از کارهای سال ۱۳۹۹ وزارت زراعت در ولایت‌های تولیدکننده‌ی جلغوزه بوده است.

در این سال، هشت هزار و ۷۰ هکتار جنگل جلغوزه احیا شده که در آینده پوشش جنگلی در سطح کشور از ۲.۸ درصد به ۲.۸۱ درصد افزایش خواهد یافت.

همین طور همکاری با ۱۵ شرکت پروسس جلغوزه در اصلاح و تکمیل پلان تجارتی جهت ثبت و دریافت اجازه فعالیت آنان، کار ارزش‌مندی برای توسعه‌ی جنگل‌های جلغوزه و افزایش درآمد از آن است. در کنار کارهای معمول سالانه‌ی دیگر برای سال آینده، خبر خوشی که در این بخش می‌توانیم داشته باشیم، این است که برای رشد جلغوزه در کشور در سال ۱۴۰۰ مالی، یک فابریکه‌ی معیاری دیگر برای پروسس جلغوزه با زمینه‌سازی پروژه‌ی سکتوری انکشاف زنجیره‌ی ارزش باغداری و به حمایت مالی بانک انکشاف آسیایی، با سرمایه‌گذاری دو میلیون دالر ایجاد می‌شود. یک میلیون دالر این سرمایه‌گذاری را وزارت زراعت برای سرمایه‌گذار (مالک) فابریکه به خاطر تشویق سرمایه‌گذاری در بخش زراعت، کمک می‌کند.

جلغوزه، از شمار ارزش‌مندترین تولیدات افغانستان است که هم می‌تواند در آینده به رشد اقتصادی کمک کند و هم ارزش‌افزایی به محصولات آن، باعث افزایش مصونیت جنگل‌های جلغوزه و درآمد پایدار انجمن‌های حفاظت از جنگل‌ها شود.

می‌توانیم بگوییم که جلغوزه در کنار زعفران، می‌تواند در آینده به آبروی زراعت افغانستان بدل شود. این تولیدات ارزش‌مند زراعتی، می‌تواند با افتخار تمام، لکه‌ی ننگین کشت کوکنار را از جبین زراعت افغانستان بردارد.

افزایش تولید، پروسس بهتر و افزایش صادرات، از مهم‌ترین بخش‌های کاری در رشد اقتصاد جلغوزه است.

## پروان کې د اوبولګولو پنځه شبکې ګټې اخیستنې ته وسپارل شول



د پروان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې په دې ولایت کې د اوبولګولو د پنځو شبکو رغنيزې چارې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د پروان د کرنې رییس عبدالوهاب خیرزاد وايي، چې د اوبولګولو یادې شبکې دروان لمریز کال په ترڅ کې د پروان ولایت په څو ولسوالیو کې د ۲۲میلیونه او ۱۵۹زره او ۴۹۴ افغانیو په لګښت جوړې شوي دي.

ښاغلي خیرزاد زیاته کړه، چې د اوبولګولو یادو شبکو په جوړېدو سره د کرنیزو اوبو د ۲۰ سلنې ضایعاتو مخه نیول شوې او ترڅنګ یې ځمکوال او بزګران په لږ وخت او لږ لګښت سره خپل بڼونه او ځمکې خړوبوي.

## د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژه د خرماوو ۱۵۰جریبه بڼونه جوړوي



د کرنې وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت دپراختیا پروژه «HVCDSP» په پام کې لري، چې د ۱۴۰۰ام مالي کال په ترڅ کې د ننګرهار، لغمان او خوست په ولایتونو کې د خرماوو ۱۵۰ جریبه بڼونه جوړ کړي.

ددغو جوړېدونکو بڼونو له ډلې ۷۵ جریبه یې په ننګرهار، ۵۰ جریبه یې په خوست او ۲۵ جریبه یې دلغمان په ولایت کې جوړیږي. یاد ولایتونه د خرماوو ونو د ودې په پار مناسبه اوبه-هوا او چاپېریال لري. ددغو بڼونو په جوړېدو سره په یادو ولایتونو کې د خرماوو بڼونو د پراختیا او دودولو په برخه کې اغېزناک ګامونه اخیستل کیږي.

خرما تر ډېره په ګرمو سیمو کې وده کوي.هلمند، فراه، کندهار، لغمان ، خوست او ننګرهار د خرماووپالنې لپاره مناسب اقلیم لري. د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژه د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له مهمو پروژو څخه دی، چې د اسیایي پراختیایي بانک «ADB» له خوا تمویلیږي. او د هېواد په ۱۱ ولایتونو کې، چې د مېوو او سبو ستر تولیدوونکي دي د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پیاوړتیا، د بڼوالۍ محصولاتو د وارداتو د بېلانس بدلون او صادراتو د زیاتوالي په موخه فعالیت کوي.

## پکتیا کې په ۵۱ بې وزله کورنیو د هګیو چرګان او اړونده توکي وویشل شول



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په هېواد کې د چرګانو روزنې د ودې او د بېوزله کورنیو د اقتصادي ودې په پار داخل د پکتیا ولایت احمد ابا ولسوالۍ کې د ځنګلونو د ټولنو په ۵۱ بې وزله کورنیو د هګیو چرګان او د چرګانو روزنې اړونده توکي وېشلي دي.

د پکتیا ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وايي: « د کرنې وزارت اړوند د ځمکې او ځنګلونو د تلپاتې مدیریت پروژې (GEF) له خوا د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې اداري « FAO» په مرسته پر یادو کورنیو ۱۵۳۰ د هګیو چرګان، د چرګانو ۷۶۵۰ کیلو ګرامه خوراکي توکي او د چرګانو روزنې اړونده نور اړین توکي وېشل شوي دي.» د پکتیا د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې د دغو۵۱ بېوزله کورنیو د اقتصادي

## پروژه پنج آمو برای تنظیم سیستم آبیاری در تخار بیش از ۳۷۳ میلیون و ۵۰۰ هزار هزینه کرد



پروژه پنج آمو، مربوط به وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، برای تنظیم سیستم آبیاری و آبریزه‌ها در ولایت تخار، در سال ۱۳۹۹ خورشیدی ۳۷۳ میلیون و ۵۵۲هزار و ۵۴۲ افغانی هزینه کرده است. سراج‌الدین مهربان رییس زراعت ولایت تخار، می‌گوید: «پروژه پنج آمو در ولایت تخار به هماهنگی ریاست زراعت این ولایت در سال ۱۳۹۹ در بخش ساخت آبریزه‌ها و تنظیم آبیاری در این ولایت، کار ساخت ۱۱ کانال زراعتی در ولسوالی‌های درقد، دشت قلعه، خواجه بهاءالدین، ینگی‌قلعه و تالقان با هزینه ۳۶۶میلیون و ۳۲۵هزار و ۹۹۸ افغانی آغاز کرد که کار سه کانال تکمیل شده و کار متباقی کانال‌ها هم به زودی به پایان خواهد رسید. هم‌چنین نُه «واترشیت» هم در ولسوالی‌های خواجه‌غار، خواجه بهاءالدین، ینگی‌قلعه، دشت‌قلعه و تالقان با هزینه پنج میلیون و ۸۵هزار افغانی ساخته شده است.» هم‌چنان پروژه پنج آمو در ولایت تخار، چهار مزرعه‌ی نمایشی گندم، سه مزرعه‌ی نمایشی جواری نیز با هزینه ۶۳۶ هزار و ۷۱۰ افغانی ساخته است. رییس زراعت تخار می‌افزاید، این پروژه به همکاری این ریاست، ۵۳ انجمن آبیاری و توزیع گواهی‌نامه، برای دهقانان ولسوالی‌های خواجه‌غار، خواجه بهاءالدین، ینگی‌قلعه، دشت‌قلعه ایجاد و توزیع کرده است.

# پکتیا کې د جلغوزیو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه

د پکتیا په ولایت کې د زون په کچه د رحیم ګردېزي د جلغوزیو د پروسس فابریکې رغنیزې چارې بشپړ او رسماً پرانیستل شوه.

په دې اړه جوړه شوې غونډه کې په انلاین بڼه ولسمشر محمد اشرف غني، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټرانوارالحق احدي، د کابینې یوشمېر وزیرانو، د یو شمېر هېوادونو سفیرانو او په حضوري ډول د څو ولایتونو والیانو او پانګوالو ګډون درلود. په چهار چنارماڼۍ کې په دې مناسبت جوړې شوې غونډې ته چې د پکتیا مرکز ګردېز څخه د پکتیا، پکتیکا، خوست او لوګر والیان او یو شمېر نور مشران د ویډیو کنفرانس له لارې وصل وو، د ولسمشر په لارښوونه د پکتیا، پکتیکا، خوست او لوګر والیانو له لوري په ګردېز کې د پټۍ په پرې کولو سره د رحیم ګردېزي د جلغوزیو د پروسس فابریکې له پرانیستې وروسته ولسمشر غني دغو مراسمو ته په وینا کې وویل، نن ویاړمنه ورځ ده چې د افغانستان د ثروت د ارزښت ځنځیرې د جلغوزیو د پروسس په برخه کې له کیفي او کمي پلوه بدلون راځي.

ولسمشر وویل، ټولو هېوادوالو او په ځانګړي ډول رحیم ګردېزي ګروپ ته د دغې پانګونې مبارکي وایم او دقدردانۍ په موخه به ورته مډال ورکړم. د هر ولایت پانګوال دې په خپلو ولایتونو کې دغسې پانګونې وکړي، ځکه دا د هېواد ثبات، یووالي او اقتصادي وده کې پام وړ اغېز لري.

ولسمشر محمداشرف غني وویل، چې د جلغوزیو د پروسس د یادې فابریکې پرانیستې سره ګردېز نه یوازې له تاریخي بلکې اقتصادي پلوه هم خپل ارزښت ځلوي.

د ولسمشر غني په وینا چې، نوموړی د یوه صنعتي او صادراتي افغانستان غوښتونکی دی او دې برخه کې فرصتونو ته په کتو به سوداګرو او پانګه والو ته هر ډول اسانتیاوې رامنځته کړي.

ښاغلی غني اړوندو وزارتونو او ادارو او په ځانګړي ډول بهرنیو چارو وزارت ته دنده وسپارله چې د افغانستان د صادراتو لپاره په بهر کې مارکېټ پیدا کړي.

په همدې حال کې ولسمشر د ځنګلونو د ساتنې په برخه کې د پکتیا، پکتیکا او خوست د ولسونو د اقداماتومننه وکړه. د هېواد جمهوررئیس د ځنګلونو د زرغونولو او ساتنې په برخه کې د ولسونو رول ته په اشارې وویل، ټولو ولسونو ته مې پیغام دی چې د ځنګلونو زرغونتیا د دوی د ګټې لپاره ده او دې برخې ته به اساسي پاملرنه او پانګونه به پرې وشي.

ولسمشرغني د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او د پانګونې د اسانتیا واحد ته لارښوونه وکړه، چې د جلغوزیو په ګډون د بېلابېلو ځنګلونو د زرغونولو، د کرنیزو محصولاتو او مېوو د ودې، پروسس، بسته بندۍ او نورو برخو کې د پانګونو او نورو همکاریو د جلبولو په موخه له پانګوالو او خصوصي سکتور سره همغږي او همکاري وکړي.

ولسمشر وویل، افغانستان دا مهال له ۵۲ څخه زیاتو هېوادونو سره د هوايي دهلېزونو له لارې وصل دی، مګر ځمکني دهلېزونه هم اړین دي او باید فعال شي. پانګوال دې د جلغوزیو په څېر د کرومایټ په برخه کې هم اساسي پانګونه وکړي.

محمد اشرف غني د خپلې وینا په پای کې وویل، په یو کال کې به یو میلیون هکتاره ځمکه خړوبه او افغانستان باید د کرنیز پیداوار او صادراتو په مرکز بدل او د ارزښت ځنځیر پیاوړی شي. هغه زیاته کړه له دې وروسته به هر سفیر په اړوندو هېوادونو کې د افغانستان دسوداګرو او پانګوالو استازی او هغوی ته د بازارموندنې او نورو برخو کې د اسانتیاوو برابرونکی وي.

په همدې حال کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر ډاکټر انوارالحق احدي ولسمشر ته د رحیم ګردېزي د جلغوزیو د پروسس فابریکې د مبارکۍ پرمهال وویل، دا ستاسو په نوښت او هڅونه جوړه شوه، چې د جلغوزیو تولید او عاید به ورسره زیات او د ارزښت ځنځیر پیاوړی شي. ښاغلی احدي وویل، د رحیم ګردېزي شرکت د پولادو په برخه کې ښه نوم



لري او هیله ده چې د جلغوزیو په برخه کې هم ښه وځلېږي.

ډاکټر انوارالحق احدي څرګنده کړه، دغه ډول کرنیزې صنایع د هېواد په صنعتي کېدو کې خپل ارزښت لري. افغانستان د جلغوزیو تولیدونکی او صادرونکی هېواد دی او د جلغوزیو په ګډون د بېلابېلو ځنګلونو په بیارغونې سره به ګڼو خلکو ته کاري زمینې برابرې او ملي عواید لوړ شي. د کرنې وزیر زیاته کړه، د کرنیزو صنایعو د ودې په موخه په دې سکتور کې د پانګونې لپاره پانګوالو ته د هراړخیز ملاتړ او اسانتیاوو ډاډ ورکوو.

دغه راز په دې غونډه کې، د پانګونې د اسانتیا واحد رییس عطاالله نصیب وویل، د ولسمشر غني په وینا زموږ پټې خزانې نورې ښکاره، مشروع، رڼې او د استفادې وړ دي او د جلغوزیو د قاچاق مخنیوی، تولید پروسس، بسته بندۍ او خرڅلاو کې پام وړ پرمختګ راغلی.

نوموړي له رحیم ګردېزي ګروپ څخه د دغې مهمې پانګونې په پار مننه وکړه او وویل، افغانستان د کال ۲۴ زره ټنه د جلغوزیو حاصلات لري، چې د حکومت په پاملرنه هر کال لس، ۱۲ سلنه زیات او زرګونه خلکو ته کاري زمینې برابرېږي. له نورو پانګوالو څخه هم د پانګونې هیله کوو او ډاډ ورکوو چې ټولې لازمې اسانتیاوې به ورته برابرې کړو.

ورپسې د رحیم ګردېزي د جلغوزیو د پروسس فابریکې رییس محبوب الله ګردېزي خبرې وکړې هغه وویل، په پکتیا کې د دغې لویې او معیاري فابریکې په جوړولو او پرانیستلو چې ټولو ته د ښه راتلونکې هیله ورکوي خوښ دی. هغه زیاته کړه، که اسانتیاوې ورته برابرې شي، نو د برېښنا په برخه کې به هم پانګونه وکړي، ځکه له دې سره کاري زمینې زیاتې او بې وزلي کمېږي. له پانګوالو یې وغوښتل چې په بېلابېلو برخو کې د پانګونو له لارې شغلونه ایجاد کړي.

د جلغوزیو د پروسس دغه فابریکه د شپږو میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت د پکتیا په مرکز ګردېز کې جوړه شوې، چې پکې زرو کسانو ته د کار زمینه برابرېږي.

د یادونې وړ ده، چې دغه فابریکه په کال کې د ۶۰ زره مټریک ټنه جلغوزیو د پروسس وړتیا لري.

# درآمدزا شدن تپه‌های خاکی با ساخت باغ‌های جدید



✍ شجاع‌الحق نوری
گزارش‌گر

دامنه‌های سبز و زیبای تپه‌های قریه اوبی اسمار، چشم هر بیننده را مجذوب خود می‌سازد. در دل این تپه‌های للمی، باغی در مساحت دو جریب زمین ساخته شده که به زیبایی این تپه‌ها افزوده است. این تپه‌ها چهار سال پیش از سوی ریاست زراعت ولایت کنر برای یک تن از باشنده‌گان دهکده، باغ لال مالته ساخته شد. حالا این تپه سبز شده و درختان آن به ثمر رسیده است.

لال مالته یکی از خوش‌طعم‌ترین میوه‌ها است که برای نخستین‌بار منم طعم آن را چشیدم.

سیدخان باشنده ولسوالی اسمار کنر که مالکیت این باغ را دارد، می‌گوید: «چهار سال پیش پروژه‌ی ملی باغداری و مالداری وزارت زراعت برایم این تپه‌ها را باغ مالته ساخت، در اول یک جریب زمین را باغ ساختیم، درختان آن دو سال شد که میوه داده، یک جریب زمین دیگر آن را امسال باغ ساختیم. در گذشته قسمتی از این تپه‌ها را گندم و جو للمی کشت می‌کردیم، حالا که حاصل از درختان آن گرفتیم ارزش آن را فهمیدیم که چقدر تفاوت دارد. روزانه در سر سرک از هزار و ۵۰۰ تا دوهزار و ۵۰۰ افغانی حاصل مالته را فروش می‌کنیم.»

این باغ مجهز به سیستم آبیاری مدرن و ذخیره‌گاه آب می‌باشد.

سیدخان از وزارت زراعت می‌خواهد که همچو باغ‌هایی را برای دیگران نیز بسازد تا زمینه مصروفیت برای مردم مساعد شود.

ولی‌خان خاورین مسوول پروژه ملی باغداری و مالداری،(NHLP) در کنر، می‌گوید آن‌ها دوهزار جریب زمین را در کنر باغ مالته ساخته‌اند که یکی از بهترین حاصلات آن لال مالته است. او گفت: «علاقه مردم زیاد شده برای احداث باغ‌ها، چون حاصل خوب داده است. انتظار داریم حاصلات آن نیز امسال افزایش خوبی داشته باشد، از وقتی که کار را شروع کردیم، علاقه‌مندی مردم زیاد شده، مردم تشویق شده‌اند، بازار پیدا شده، حاصلات زیاد شده، برای اولاد مردم مصروفیت پیدا شده است.» باغ‌های احداث شده در ولسوالی‌های خاص کنر، دانگام، مانوگی، سوکی، شیگل، وته‌پور، سرکانو، ناری، نورگل، اسمار و اسعدآباد موقعیت دارند که یک‌هزار و ۵۰۰ نفر از آن مستفید شده‌اند. رییس زراعت کنر نیز از بستر مساعد



برای احداث باغ‌های مالته می‌گوید. انجنیر ضیاءالرحمان مومند گفت: «کنر اقلیم مناسب برای باغداری دارد، مردم هم علاقه‌مندی زیاد دارند، زمین بهتر، آب کافی و هوای مناسب از امتیازهای کنر برای باغداری به خصوص مالته می‌باشد، از همین خاطر تاکنون سه‌هزار جریب زمین را تنها باغ ستروس ساختیم، حاصل ستروس بهتر، فروش آن در کنر و ولایات کابل و ننگرهار صورت می‌گیرد، در کنار آن برای مردم هم زمینه کار پیدا شده، امسال انتظار داریم که در حاصلات میوه ستروس ۱۰ درصد افزایش بیاید.»

# پرورش بز و گوسفند، شغل پر درآمد



نعیم رضایی
گزارش‌گر



پرورش بز و گوسفند از قدیمی‌ترین شغل‌های مردم در کشور است و زیربنای اصلی اقتصادی کوچی‌نشین را در کشور تشکیل می‌دهد. مالداری منبع خوب درآمد برای تمامی شهروندان و یکی از منابع عمده مواد غذایی، مواد سوخت، مواد خام صنایع دستی و منبع اشتغال‌افزایی در کشور می‌باشد.

بر اساس آمارهای ریاست احصاییه وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، سال گذشته به صورت مجموعی به تعداد بیش‌تر از ۲۳ میلیون گوسفند و بز در افغانستان نگهداری می‌شد. بر اساس همین آمارها، سال گذشته به صورت مجموعی ۵۵۱ هزار و ۳۱۳ تُن گوشت بز و گوسفند در کشور تولید و به مصرف رسیده است.

داکتر نجیب‌الله کارشناس بخش پرورش بز و گوسفند در ریاست مالداری وزارت زراعت می‌گوید: «مالداری رکن اساسی زراعت در کشور است، پرورش بز و گوسفند بخش اساسی آن می‌باشد که به شکل گله‌ای در قریه‌جات و ولایات پرورش می‌یابد و مالداری بیش‌تر در بین قشر کوچی کشور رایج است.» به گفته وی، پرورش بز و گوسفند در جاهایی که زمین زراعتی کم و مناطق کوهستانی می‌باشد، بیش‌تر رایج است. او می‌گوید، ما نسل‌های مختلف بز و گوسفند در کشور داریم، که در حال حاضر نُه نسل گوسفند مختلف‌النوع و پنج نسل بز مختلف‌النوع محلی در افغانستان وجود دارد که هر کدام از این نسل‌ها دارای خواص منحصر به خودش می‌باشد و معمولاً به شکل چند منظوری یعنی تولید گوشت، شیر، پشم، موی، کشمیره و پوست نگهداری و پرورش می‌یابند. نجیب‌الله هم‌چنان افزود پوست قره‌قل که اهمیت جهانی دارد، گوسفند آن را بیش‌تر مالداران سمت شمال کشور پرورش می‌دهند. به گفته‌ی او، در بخش پرورش گوسفند قره‌قل دو فارم داریم که در ولایت‌های مزارشریف و هم‌چنان ولایت جوزجان فعالیت دارند؛ اما در افغانستان بیش‌تر به شکل عنعنه‌ای پرورش می‌یابد.

# ۱۳۹۹یم مالي کال کې د کندهار د کرنې ریاست لاسته راوړنې



نورالله پتمن
خبریال

دکندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې د ۱۳۹۹یم مالي کال په ترڅ کې یې ددې ولایت د بزګرانو، بڼوالو و مالدارانو د ملاتړ په پار دیاد ولایت په مرکز او ولسوالیو کې یوشمېر اغېزناکې پروژې پلي کړې دي.

د کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس سیدحفیظ الله سیدي وایي، چې ۱۳۹۹یم مالي کال ددې ولایت د کرنې ریاست پراختیایي بودیجه ۴۹۷میلیونه او ۷۲۰زره او ۵۴۴ افغانۍ وه، چې له دې ډلې څه باندې ۹۰ سلنه یې د کرنې، بڼوالۍ، اوبولګولو، مالدارۍ او طبیعي سرچینو د پراختیا په پار لګول شوی دی.

د ښاغلي سیدي په خبره په دې ولایت کې د زعفرانو د ودې په پار د زعفرانو نندارېزې قطعې جوړول، د بېلابېلو کرنیزو توکو د عصري کرکېلې د ترویج په پار نندارېزې کروندې جوړول، پر بزګرانو د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرو وېش، د نباتي ناروغیو کنټرول، د اوبو زېرمه کولو کچنې بندونه جوړول، د حیواني خوراکي ورکړه، بېوزلو سره نغدې مرستې او د ناروغیو او افتونو د مخنیوي په پار له بزګرانو سره دوامداره همکارۍ هغه کړنې دي، چې ۹۹یم مالي کال کې ترسره شوي دي.

د کندهار د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې د بڼوالۍ په برخه کې هم سږکال په دې ولایت کې یوشمېر کړنې ترسره شوي دي، چې په کې د نویو بڼونو جوړول، د یوشمېر بڼونو بیارغول او د بڼوالۍ په بېلابېلو برخو کې یوشمېر بڼوالو ته روزنه ورکول شامل دي.



ددې ترڅنګ په دې ولایت کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت یوزرو ۱۲ پروژې هم پلي شوي دي، چې په کې د ممیزخونو او زېرمتونونو جوړول شامل دي.

په ورته وخت کې د کندهار د کرنې او مالدارۍ ریاست ددې ولایت د مالدارۍ د پراختیا په پار هم ۹۹یم مالي کال کې هلې ځلې کړي دي. دکندهار د کرنې رییس سیدحفیظ الله سیدي وایي، چې د کانګو تبې د مخنیوي په پار پراخ کمپاینونه پلي کول، د بروسلوز او یوشمېر نورو ناروغیو پر وړاندې د واکسینو کمپاینونه پلي کول، د مالدارنو د څارویو خوندي کولو په پار پر یوشمېر مالدارانو د څارویو د ناروغیو درمل وېشل او مالدارانو ته روزنه ورکول هغه کړنې دیو چې د مالدارۍ په برخه کې ترسره شوي دي.

د دغه ریاست د ترسره شویو پراختیایي پراګرامونو څخه زرګونه نارینه او ښځینه کروندګر او مالداران برخمنې شوي دي، چې پدې سره په یاد ولایت کې کرنیز سکتور ورځ تر بلې د پراختیا په حال کې دی.

# د ۹۰۰ جریبه ځمکو خوندي کول او د کورنیو ارامتیا راگرځول: تر دې وروسته سېلابونه د کوټ ولسوالۍ د بزگرانو کروندې نه گواښي



جمعه‌گل اشرفی
خبریال

د کرنې وزارت د یوې پروژې لـه لارې د تېرو درو میاشتو پـه ترځ کـې د ننگرهـار ولایـت د کـوټ ولسـوالۍ د هیبـت خېلـو پـه کلي کـې د ۴۰۰ مـترو پـه اوږدوالي سره محافظتـي دېـوال پـه پاخـه او اسـاسي ډول رغـول شـوی دی. تـر دې وروسـته سـېلابونه ددې کلي د اوسـیدونکو کورونـه او کرونـدې نـه گواښـي او ددې کلي ټـول اوسـیدونکي لـه دې دېـوال څخـه برخمـن شـوي دي. دا اسـتنادي محافظتـي دېـوال ۴۰۰ متـره اوږدوالـی او دوه مـتره لوړوالـی لـري، چـې د سـیند پـه دواړو خـواوو کـې رغـول شـوی دی او د بارانونـو پـه موسـم کـې ۹۰۰ جریبـه کرنیـزې ځمکـې د سـېلابونو لـه گـواښ څخـه خونـدي کـړې دي. د دې اسـتنادي دېـوال تـر جوړېـدو مخکـې، د سـېلابونو د گواښـونو د مخنیـوي پـه پـار دیـاد کلي ټـول اوسـیدونکي هلـې ځلـې کـول او لـه خـاورو او شـگو څخـه یـې بوجـۍ ډکـول او د یوبـل پـر سر بـه یـې اېښـودل، لـه لـري ځایونـو څخـه یـې نـورې توکـې راوړل ترڅـو داسـې بنـد جـوړ کـړي، چـې د سـېلابونو مخـه ونیسـي او یـا ورسره د اوبـو مخـه بدلـه کـړي. د بزگرانـو ټولـې هلـې ځلـې ددې لپـاره وه، ترڅـو سـېلابونه یـې کرونـدې ویجـاړې نـه کـړي. سـېلابونه حتـا د خلکـو کورونـه گواښـول او د سـېلابونو لـه ډاره خلـک پـه شـپو شـپو ارام خـوب نـه درلـود.

د هیبـت خېلـو او سـدوخېلو کلي د شـورا اسـتازی ملـک معـروف وایـي: «هـرکال ددې کلي ۹۰۰ جریبـه ځمکـه د سـېلابونو لـه گواښ سره مخ ول، او هـرکال د خلکـو څـه بانـدې ۸۰ سـلنه کرونـدې د سـېلابونو لـه وجـې تخریبېـدل. دغـو گواښـونو تـه پـه کتـو کروندگـر بـه پـه خپلـو ځمکـو کـې کرکېلـه نـه کـول.»



د هغـو سـتونزو پـه پار چـې ددې کلي اوسـیدونکي او بزگـران د سـېلابونو لـه وجـې درلـودې، ددې ولسـوالۍ د خلکـو او پراختیایـي شـوراگانو لـه خـوا ددې اسـتنادي دېـوال د جوړولـو طرحـه د کرنـې وزارت یـوې پـروژې تـه وړانـدې شـوه. ددې دېـوال رغنیـزې چـارې پیـل او لـه درو میاشـتو وروسـته یـې رغنیـزې چـارې بشـپړې شـوې. اوس ددې دېـوال پـه بشـپړېدو سره د بـاران پـه موسـم کـې د بزگرانـو او کورنیـو اندېښـنې لـري شـوي دي او ددوی کورونـه او کرونـدې د سـېلابونو لـه گـواښ څخـه خونـدي شـوي دي. د یـاد دېـوال تر جوړېـدو وروسـته، ۹۰۰ جریبـه کرنیـزې ځمکـې د کرکېـلي وړ دي او د یـادو ځمکـو کروندگـرو او کښـت تـه پـه کافي انـداز اوبـه رسـېږي. ددې دېـوال تـر جوړېـدو وروسـته د هیبـت خېلـو د کلي د اوسـیدونکو او ځمکوالـو کرونـدې او کورونـه خونـدي او د سـېلابونو گـواښ لـه منځـه تللـی دی.

اوس نـو ددې کلي بزگـران، غنـم، جـوار او سابه کـري او لـه خپلـو کرونـدو څخـه پـه یـوه کال کـې دوه ځلـې حاصـل راټولـوي.

اوس چـې د خلکـو کرنیـزې ځمکـې د سـېلابونو لـه گـواښ څخـه خونـدي شـوي دي، دوی لېـوال شـوي، چـې د خپلـو ځمکـو پـه یـوه برخـه کـې بڼونـه جـوړ کـړي او لـه بڼونـو څخـه ښـه عوایـد ترلاسـه کـړي. ددې کلي یوتـن اوسـیدونکی حـضرت پادشـاه وایـي: «زمـوږ ځمکـې او کرونـدې سـېلابونه وړلـې. څـو ځلـې مـو نیالگـي کېښـول، خـو ټـول یـې سـېلابونو لـه ځـان سره لاهـو کـړل، لـه ډاره، هیـڅ شـی بـه مـو نـه کـرل. خـو اوس چـې دا محافظتـي دېـوال رغـول شـوی دی، زمـوږ ځمکـې خونـدي شـوي دي او غـواړو چـې نیالگـي کېنـوو او بڼونـه جـوړ کـړو ترڅـو ښـه عوایـد ولـرو.»

د کرنـې، اوبلگولـو او مالـدارۍ وزارت یـاده پـروژه، چـې د ولسـي شـوراگانو د پرېکـړو پر اسـاس فعالیـت لـري، د ننگرهـار، بادغیس او فـراه پـه ولایتونـو کـې د کوکنـارو د کرکېـلي د کچـې ټیټولـو پـه برخـه کـې کار کـوي. ددې پـروژې موخـه د ارزښـت لرونکـو کرنیـزو توکـو د دودولـو او تولیـد لـه لارې د سـمه ییـزو بزگرانـو، بېوزلـه مېرمنـو او کروندگـرو کورنیـو اقتصـادي پیاوړتیـا ده.

## ریاست زراعت بغلان ۸۱ درصد بودجه‌ی بیش از ۴۳۳ میلیونی‌اش را مصرف کرده است



درخشان صدیقي
گزارش‌گر

ریاسـت زراعـت، آبیـاری و مالـداری ولایـت بغـلان، در سـال مالـی ۱۳۹۹ خورشـیدی، ۴۳۳ میلیـون و هفـت هـزار و ٦٦٨ افغانـی بودجـه داشـت کـه از ایـن بودجـه، ۸۱ درصـد آن بـه مـصرف رسـیده اسـت.

بـا مـصرف ۸۱ درصـد بودجـه، در بخش‌هـای مختلـف زراعتـی، آبیـاری و مالـداری پروژه‌هـای مختلـف تطبیـق شـده اسـت. ایـن پروژه‌هـا شـامل سـاخت شـبکه‌های آبیـاری کانـال مربـوط بـه کانـال «یک‌هـزار» در ولسـوالی نهریـن بـا هزینـه سـه میلیـون و ۷۰۵ هـزار افغانـی، سـاخت شـبکه آبیـاری کارگـرد ولسـوالی ده‌صـلاح بـه هزینـه شـش میلیـون و ۱۸۸ هـزار و ۷۰۰ افغانـی، سـاخت شـبکه آبیـاری فرقـه در ولسـوالی نهریـن بـا هزینـه شـش میلیـون و ٦٣۴هـزار و ۱۵۰ افغانـی، سـاخت شـبکه آبیـاری حسـن تـال ولسـوالی بغـلان مرکـزی بـه ارزش ۳۳ میلیـون ٦۴۸هـزار و ۹۴۰ افغانـی و همیـن طـور شـبکه آبیـاری مربـوط بـه کانـال دوهـزار در ولسـوالی نهریـن، شـبکه آبیـاری سربنـد دهنـه توغـک در ولسـوالی و سـاخت چهـار سربنـد بـرای کنـترل آب بـاران می‌شـود.

هم‌چنیـن چندیـن پـروژه از جملـه پـروژه تنظیـم و ارزش‌افزایـی محصـولات هنـگ در ولسـوالی‌های دهنـه‌ی غـوری و پلخمـری بـه ارزش پنـج میلیـون و ۹۹۴هـزار و ۱۵۹ افغانـی، سـاخت دیـوار اطـراف فـارم بـزر و گوسـنفدپروری در ولسـوالی پلخمـری بـه ارزش ده میلیـون و ۳۵هـزار افغانـی، سـاخت ۳۲۵ ذخیـره‌گاه کچالـو، پیـاز و سردخانـه سـیب بـه ارزش ۱۷۳ میلیـون و ۷۰۹هـزار و ۷۰۹ افغانـی در چهـارده واحـد اداری بغـلان، پـروژه فـارم تحقیقاتـی پوزه‌ایشـان در ولسـوالی پلخمـری بـه ارزش یـک میلیـون و ۴۹۹هـزار افغانـی تطبیـق شـده اسـت.

مبـارزه بـا آفـات و امـراض نباتـی، ایجـاد ۲۱۰ مزرعـه‌ی نمایشـی گنـدم، احـداث یک‌هـزار و ۹٦۴ جریـب بـاغ میـوه مختلف‌النـوع در چهـارده ولسـوالی، حفاظـت و مراقبـت از ۳۸ هـزار و ۳۰۰ هکتـار جنـگل طبیعـی، ۱۷۰ هکتـار جنـگل مصنوعـی و همین‌طـور یـک میلیـون و ۲۰۳هـزار و ۷۰۰ هکتـار چـراگاه در سـطح ولایـت بغـلان، احـداث ۲۱ مزرعـه‌ی نمایشـی زعفـران و ۱۵ مزرعـه‌ی نمایشـی سـویابین نیـز شـامل فعالیت‌هـای سـال مالـی ۱۳۹۹ در ولایـت بغـلان اسـت.

ایـن ریاسـت می‌گویـد کـه نبـود امنیـت از چالش‌هـای عمـده فـراروی تطبیـق پروژه‌هـای انکشـافی اسـت. بغـلان یـک ولایـت زراعتـی اسـت کـه دارای (۱۸ هـزار و ۲۵۵ کیلومـتر مربـع مسـاحت می‌باشـد. ایـن ولایـت از ۱۵ واحـد اداری بـه شـمول مرکـز، شـکل گرفتـه اسـت. بغـلان ۹۸ هـزار و ۱۰۱ هکتـار زمیـن آبـی، ۱۰٦ هـزار و ۵۳۵ هکتـار زمیـن للمـی، یـک میلیـون و ۲۰۳ هـزار و ۷۰۰ هکتـار چـراگاه، ۳۸ هـزار و ۳۰۰ هکتـار جنـگل طبیعـی و در حـدود چهـار هـزار و ۴۰ هکتـار بـاغ دارد.

نزدیـک بـه ۸۵ درصـد باشـنده‌گان ایـن ولایـت در بخـش زراعـت و مالـداری مصروف‌انـد.

ایـن ولایـت، از منابـع سرشـار آبـی خـوب برخـوردار اسـت و دریـای تاله‌وبرفـک، دریـای سـالنگ و بـا دریـای انـدراب یک‌جـا دریـای بغـلان و کنـدز را تشـکیل می‌دهنـد کـه در حـدود ٦٠ هـزار هکتـار زمیـن را در طـی مسـیر انـدراب و تاله‌وبرفـک تـا کنـدز، آبیـاری می کننـد.

محصـولات عمـده‌ی ولایـت بغـلان گنـدم، برنـج، جـو، جـواری، سـبزیجات از قبیـل پیـاز، کچالـو، بادنجـان رومـی، تربـز، خربـزه و ...



ع خان‌زاده
خبریال

# ۱۳۹۹یم مالي کالي کې د خوست دکرنې ریاست کړنې او فعالیتونه



دخوست د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وايي، چې د ۱۳۹۹یم مالي کال په ترڅ کې يې ددې ولایت د بزګرانو، بڼوالو و مالدارانو د ملاتړ او طبیعي سرچینو د خوندي کولو او پراختیا په پار یوشمېر اغېزناکې پروژې پلي کړې دي.

د خوست د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس حفیظ الله شاه نوري وايي، چې ۱۳۹۹یم مالي کال ددې ولایت د کرنې ریاست پراختیایي بودیجه ۳۲میلیونه او ۷۵۴زره او ۳۵۲افغانۍ وه، چې ددې ولایت د مرکز په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د کرنې، بڼوالۍ، اوبولګولو، مالدارۍ او طبیعي سرچینو د پراختیا په پار لګول شوې دي.

حفیظ الله شاه نوري وايي، چې ۹۹یم مالي کال کې د خوست د پنځو ولسوالیو په ۳٦۰ قوریو کې دوه میلیونه او ۱٦۰ زره د چهارمغزو او جلغوزیو نیالګي روزل شوي، چې ۲۷ زره هکتاره ځمکه يې تر پوښښ لاندې راوستې دي او په ترڅ کې يې په نېغه او نانېغه توګه دوه زره او ۵۲۰ کسانو ته په کې د کار زمینه برابره شوې ده.

ددې ترڅنګ په ۱۳۹۹یم مالي کال کې د خوست ولایت د بڼوالۍ پراختیا په پار هم هڅې شوې دي. د خوست د کرنې رییس حفیظ الله شاه نوري وايي، چې ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا په پار د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې له خوا سږکال د بېلابېلو مېوو ۵۰۵ جریبه بڼونه جوړ شوي دي، پر بڼوالو د بڼوالۍ اړونده توکي وېشل شوي او ترڅنګ ددې ولایت یوشمېر بڼوال روزل شوي هم دي.

په ورته وخت کې شنې خونې، څېړنیز فارمونه، د زعفرانو او سویابینو ننداریزې قطعې هم جوړې شوي دي.

د ښاغلي نوري په وینا په خوست ولایت کې د سبو په برخه کې د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې په اډانه کې پر مېرمنو د بادرنګو، بانجانو، پیازو توربانجانو، پالک، مرچ، او بینډیو تخمونه ویشل شوې دي. په مرکز، باک، تنی، نادرشاه کوټ، صبرۍ، ګربز، اسمعیل خېل، علیشیر، ځاځی میدان او نورو اړونده ولسوالیو کې بزګرانو ته د زعفرانو پنځه ننداریزې قطعې او د غنمو یوشمېر ننداریزې قطعې جوړول او پر شپږزره او ۷۵۰ بزګرانو څه باندې ۳۳۷ مترېک ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشل د خوست د کرنې ریاست نوري کړنې دي.

د خوست دکرنې رییس زیاته کړه، چې د نورو برخو ترڅنګ ۹۹یم مالي کال کې ددې ولایت مالدارۍ ته هم ډېره پاملرنه شوې ده. حفیظ الله شاه نوري وايي، چې حیواني او نباتي ناروغیو او افتونو سره د مبارزې په پار څلور بابه حیواني کلینیکونه جوړول، د نباتي او حیواني درملو وېش، مالدارانو لپاره د لبنیاتو د پروسس اړینې توکي برابرول، په سپیره او علیشیرو ولسوالیو کې د ۲۰ ملیونو افغانیو په ارزښت ۲۵۰ بابه نیمه سوداګریز فارمونوجوړول، چې ۵۰سلنه يې د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې او ۵۰سلنه نور يې د برخمن شویو مالدارانو له خوا ورکول شوي دي او ترڅنګ يې ددې پروژې له لارې ۲۵ بېوزله کورنیو ته غواوې، نسلي وزې، سل ګرامه ایکتو پرازیت، ٦۰۰ ملي ګرامه ډیورمنګ، ۱۰ملي ګرامه تګافون ورکول او هرې کورنۍ ته اړینې روزنې ورکول په ۹۹یم مالي کال کې د مالدارۍ په برخه کې ددې ریاست کړنې دي.

د خوست د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست رییس حفیظ الله شاه زیاته کړه، چې دخوست په ټولو ولسوالیو کې ۵۵ زره څاروي واکسین شوي دي، ټولو ولسوالیو لپاره د خدماتو د وړاندې کولو په موخه له لسو وټرنرانو سره تړونونه لاسلیک شوي، څلور بابه سایلچ سیلوګانې جوړې شوې، دوه زره او ۸۸۰ هیګولرونکو چرګان وېشل شوي دي.

حفیظ الله شاه نوري وايي، چې ۱۳۹۹یم مالي کال کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې هم په دې ولایت کې یوشمېر پروژې پلي شوي، چې په کې ۱۹ د پیازو زېرمتونونه او ۴۹ د کچالو زېرمتونونه جوړول شامل دي.

د دغه ریاست د ترسره شویو پراختیایي پراګرامونو څخه سلګونه نارینه او ښځینه کروندګر او مالداران برخمنې شوي دي، چې پدې سره په یاد ولایت کې کرنیز سکتور ورځ تر بلې د پراختیا په حال کې دی.

# ریاست زراعت دایکندی از فعالیت‌هایش در ۱۳۹۹ گزارش داد



ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت دایکندی، از فعالیت‌هایش در عرصه‌های مختلف زراعتی، باغداری و مالداری در یک کنفرانس گزارش‌دهی که از سوی دفتر والی آن ولایت برگزار شده بود، گزارش داد.

براساس گزارش این ریاست، در سال ۱۳۹۹ خورشیدی، ۵۰ ذخیره‌گاه پیاز در شش ولسوالی دایکندی با هزینه ۲۲ میلیون ۱۵۵هزار و ۲۱۰ افغانی، ۱۹۹ ذخیره‌گاه کچالو در هشت ولسوالی با هزینه ۱۱۰ میلیون و ۲۳۸هزار ۴۳۸ افغانی، ۲۱ سردخانه صفر انرژی سیب با هزینه ۴۹ میلیون و ۵۷۰هزار و ۴۳۷ افغانی ساخته و همین‌طور ۳۲٦ متریک تُن تخم گندم به ارزش یک میلیون و ۵٦ هزار افغانی به ٦هزار و ۵۲۰ دهقان در ده ولسوالی توزیع شده است.

هم‌چنین ساخت ۱۴ مزرعه‌ی نمایشی گندم، توزیع ۱۹هزار و ۵۰۰ کیلوگرام پیاز زعفران برای احداث ۳۹ مزرعه نمایشی زعفران با هزینه سه میلیون و ۸۳۹هزار و ۳۳۰ افغانی، آموزش ۱۳۴ زعفران‌کار، توزیع ۱۰۱ گل‌خانه به ابعاد چهار در ۱۲ مترمربع به هزینه شش میلیون افغانی به زنان سبزی‌کار، دواپاشی بیش از ۱۹۰هزار نهال، آموزش ۲هزار و ۵۵۰ دهقان در باره چگونگی کنترول و مبارزه با آفات نباتی، توزیع ۳۳۰ لیتر دوای زراعتی، مصرف ۷۰۰ کیلوگرام کود سفید به منظور اسپری درختان و احداث چهار قطعه نمایشی مکتب مزرعه در سه ولسوالی نیز شامل فعالیت‌های سال جاری خورشیدی ریاست زراعت دایکندی می‌شود.

در عین حال، این ریاست توانسته که در سال جاری خورشیدی ۷۵۳ جریب باغ سیب، بادام، انار، شفتالو، آلو، زردآلو و غیره با هزینه سه میلیون و ۸۰ هزار افغانی بسازد و ۸۰۰ هزار نهال را شاخه‌بُری کند.

هم‌چنین شش‌هزار نهال نیز برای ادارات دولتی توزیع و فارم مراکز تکثیری و آموزشی احیا شده است.

ریاست زراعت دایکندی توانسته در سال جاری خورشیدی ده‌ها پروژه خُرد و بزرگ دیگر نیز را در زمینه‌های مختلف زراعتی، باغداری، مالداری، حفاظت از منابع طبیعی، کمک به بهبود اقتصاد خانواده‌ها اجرا کند.

مهرداد احمدی
خبریال

# لوگر کې د کرکېلې د لارو چارو بدلون؛
## لږه ځمکه ډېر حاصل



لوگر د کابل په سوېل کې، ښایي کابل ته یوازنی نږدې ولایت وي، چې کولی شي له پلازمېنې سره د خپل نږدېوالي او گاونډېتوب تر ټولو زیاته گټه پورته کړي.

د لوگر ولایت؛ د نورو ډېرو ولایتونو په پرتله دکرکېلې لپاره مناسبه چاپېریال، اوبه او هوا لري. په وروستیو کالو کې ددې ولایت بزگران او اوسیدونکو، د کرنې، مالدارۍ او بڼوالۍ په برخو کې د پراخو بدلونونو شاهدان دي. دا بدلونونه ددې لامل شوې، ترڅو د لوگر اوسیدونکي او بزگران د کرنې، بڼوالۍ او مالدارۍ نویو لارو چارو سره بلد شي او دا زده کړي، چې څنگه له لږو ځمکو ډېرحاصل ترلاسه کولی شي.

مخکې تردې دلوگر د بزگرانو اصلي بوختیا فصلي کرکېله وه، خو د وروستیو کالو په ترڅه کې د کرکېلې په برخه کې په دې ولایت کې په پراخو بدلونونو سره چې رامنځته شوي دي، د بزگرانو دکار بڼه بدله شوې ده او اوس ددې ولایت ډېری بزگران په هر کال او هر فصل کې د کښت او حاصل ټولولو په تمه نه دي؛ بلکه یو وار کري او لسگونه کال یې حاصل ټولوي.

د لوگر د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ رییس عبدالله تسل وایي، چې په وروستیو کالو کې د کرنې په برخه کې فعالیتونه ددې ولایت د خلکو او بزگرانو د پوهې کچه لوړه کړې ده او خلک پوه شوي دي، چې دکرنې د لاروچارو په بدلون سره کولی شي، چې له لږو ځمکو ډېر حاصل تر لاسه کړي.

د لوگر د کرنې رییس بڼوالۍ ته ددې ولایت دخلکو لېوالتیا ته په اشارې سره وایي، چې مخکې که په یوه جریبه ځمکه کې غنم کرل کېده یوازې یوفصل به ورڅخه راټولېده، خو بڼ ته ددې ځمکې په بدلېدو سره حاصل یې څو چنده زیات شوي دي. هغه وویل، چې دې ټکي ته د بزگرانو پام شوی دی او همدا لامل دی، چې د لوگر په ولایت کې بڼوالۍ مخ پر وده ده. عبدالله تسل وایي: «یوه موخه چې موږ ټول یې لرو داده، چې څنگه وکولی شو له لږې ځمکې ډېرحاصل تر لاسه کړو. همدا بڼوالۍ کولی شي، چې موږ یادې موخې ته ورسوي. مخکې د غنمو او کچالو کرکېله ډېر دودو و، خو اوس له یوه جریبه بڼ څخه د درې جریبه کچالو او غنمو حاصل په لاس راځي. په همدې موخه خلک تر ډېره بڼوالۍ ته مخه کوي.»

### کابل سره د نږدېوالي ښېگڼې

د لوگر ولایت د کابل په سوېل کې، له پلازمېنې سره یو له ترټولو نږدې ولایتونو څخه گڼل کیږي. پلازمېنې سره نږدېوالي، چې د نورو ولایتونو په پرتله ډېر وگړې په کې ژوند کوي او له ترټولو مهمو کورنیو مارکېټونو څخه گڼل کیږي کولی شي، چې د لوگر ولایت په کرنیزو فعالیتونو ډېرې اغېزې ولري. هر هغه څه چې په لوگر کې تولید شي کولی شي، چې لنډه موده کې کابل ته ورسیږي.

د لوگر د کرنې رییس عبدلله تسل وایي، چې کابل ته د لوگر نږدېوالی، هغه ښېگڼه ده، چې یاد ولایت د کرنې په برخه کې د نورو ولایتونو په پرتله ځانگړی کوی. هغه وویل: «د بازارموندنې (مارکېټنگ) کوم فرصت چې په لوگر کې ده، په ډېرو ولایتونو کې لږ تر سترگو کیږي. په کابل کې کرنیزې ځمکې لږې دي، خو په لوگر کې کرنیز ځمکې ډېرې دي او ترڅنگ یې د کابل مارکېټ هم ورته نږدې دی. دویم دا چې د اوبو او هوا له اړخه هم لوگر غوره دی او ډېرې کرنیزې اوبه هم لري.» د لوگر د کرنې رییس دې ته په ټینگار سره چې د کرنې ښه والي او په دې برخه کې د فعالیتونو زیاتوالی لاډېرې پانگونې ته اړتیا لري، زیاته کړه: «که موږ په لوگر کې وړې او لویې سړې خونې او د مېوو او سبو د پروسس کارخونې ولرو، ډاډ من یم چې لوگر کولی شي یو له مهمو کرنیزو ولایتونو څخه وي.»

د لوگر ولایت د کرنې او مالدارۍ په برخه کې په وروستیو کالو کې د پام وړ پرمختگ کړئ دی او یاد ولایت د ورځې ۳۰ لیټره شېدې کابل او پکتیا ته صادروي او دغه راز د غلو دانو تخمونه چې مخکې به یې له نورو ولایتونو واردول اوس دننه په همدې ولایت کې تولید او صادریږي. د لوگر د کرنې او مالدارۍ د ودې په پار اوبولگول هم یو له مهمو برخو څخه دی.

د لوگر د کرنې رییس په خبره، په وروستیو پنځو کالو کې، په دې ولایت کې د اوبولگولو نږدې ۳۵ لوی او واړه کانالونه جوړ شوي دي، چې ددغو کانالونو جوړېدل ددې ولایت کرنیزې ځمکې نږدې ۲۰ سلنه زیاتې کړې دي.

دغه راز د لوگر ولایت مالداران هم خپل کارې لارې چارې بدل کړي دي، مخکې که یې د غوا له یو سیمه ییز نسل څخه په یوه شپه او ورځ کې اووه کیلوگرامه شېدې ترلاسه کول، خو اوس له هر اصلاح شوي غوا څخه په همدې موده کې څه باندې ۳۰ کیلوگرامه شېدې ترلاسه کوي. ددغو محصولاتو د پلور لپاره ترټولو نږدې مارکېټ په کابل کې شتون لري.

په همدې حال کې د لوگر د کرنې رییس وایي، چې د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ په بېلابېلو برخو کې دکرنې وزارت فعالیتونه ددې لامل شوي دي، چې ډېری هېوادوال له ډلې دلوگر ولایت بزگران د کرکېلې او مالدارۍ نوې لارې چارې زده کړې او د خپلو عوایدو او حاصلاتو زیاتولي لپاره خپل کارې لارو چارو ته بدلون ورکړي.

هفته‌نامه
دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷۶۶٤۰۰٦۰۰ - akbar_rostami۱۰@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳٤۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرایی: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷٦٦٤۰۰٦۰۰ ۰۷٤۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE: ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 124 • Dehqan Weekly • Saturday • January 9th • 2021

# ۱۳۹۹ایم مالي کال کې د ننګرهار د کرنې ریاست کړنې او لاسته راوړنې



✍عبدالواسع خان‌زاده
خبریال

دننګرهارد کرنې، اوبولګولو او مالداري ریاست وایي، چې ۱۳۹۹یم مالي کال په ترځ کې یې ددې ولایت د بزګرانو، بڼوالو او مالدارانو د ملاتړ او طبیعي سرچینو د خوندي کولو او پراختیا په پار یوشمېر اغېزناکې پروژې پلي کړې دي.

د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالداري رییس انعام الله صافی وایي، چې ۱۳۹۹یم مالي کال ددې ولایت د کرنې ریاست پراختیایي بودیجه ۱۱۵ میلیونه او۴۸۰زره او ۷۳۰ افغانۍ وه، چې ددې ولایت د مرکز په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د کرنې، بڼوالۍ، اوبولګولو، مالدارۍ او طبیعي سرچینو د پراختیا په پار لګول شوې دي.

انعام الله صافی وایي، په ۹۹یممالي کال کې د ننګرهار په ولایت کې د ارزښت لرونکو کرنیزو محصولاتو دودولو او میکانیزه کرکېلې په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي. د ښاغلي صافی په خبره د ننګرهار په بېلابېلو ولسوالیو کې د زعفرانو پنځه، د غنمو ۱۰، د شولو ۲۰۰، د سویابینو ۲۰،د ممپلیو ( ځمکنی بادامو) ۲۷، د پنبې ۳۰ ، او دلمر ګل ځلورننداریزې قطعې جوړې شوي دي.دغه راز د همدې کال په ترځ کې پر ۱۳ زره او ۴۰ بزګرانو ۶۵۲ ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه هم وېشل شوي دي. په همدې توګه د شولو کرکېلې په برخه کې دوه زره او ۵۰۰ بزګرانو، د غنمو او سویابینو په برخ کې ۱۲۰ بزګرانو، د لمرګل او ممپلیو کرکېلې په برخه کې ۹۰ بزګرانو، د زعفرانو دکرکېلې او حاصل ټولولو په برخه کې ۶۰ او د پنبې د کرکېلې په برخ کې ۶۰ بزګرانو ته روزنه ورکول هغه چارې دي، چې په ۹۹یم مالي کال کې تر سره شوي دي.

ننګرهار هغه ولایت دی، چې د ګڼو نورو مېوو ترڅنګ د سټروسو ونو ودې لپاره هم خورا مناسبه چاپېریال، اوبه او هوا لري. د ننګرهار د کرنې ریاست وایي، چې ۱۳۹۹یم مالي کال کې ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا په ځانګړې توګه د سټروسو بڼونو د پراختیا په پار هم هلې ځلې کړي دي.

انعام الله صافی وایي، د بېلابېلو مېوو یوزرو ۸۶۲ جریبه بڼونه جوړول، ۷۰۰ بڼوالو ته د بېلابېلو نباتاتو او مېوو په تړاو روزنه ورکول او د بڼونو د افتونو او ناروغیو د کنټرول او درملنې په پار پراخ پروګرامونه پلي کول هغه څه دي، چې سږکال د ننګرهار د کرنې ریاست له خوا ددې ولایت د بڼوالۍ د پراختیا په پار تر سره شوي دي.

د ننګرهار د کرنې رییس انعام الله صافی زیاته کړه، سږکال په یاد ولایت کې د ځنګلونو ساتنې، بیارغونې او پراختیا ته هم پاملرنه شوې او په دې برخه کې ګڼې کړنې تر سره شوي دي. د ۶۴ زره او ۴۹۶ هکتاره ځنګلي سیمو ساتنه او مراقبت، د ځنګلونو د بیارغونې په پار ۱۱ زره نوي ځنګلي بوټي کینول شوي، ۲۲۰ تنو ځنګل لرونکو ته د جلغوزیو دغوټوشکولو بیاتي ګانې ورکول، د زرغونتیا په پار ۲۰۰زره او۲۸ زره نیالګي تولیدول او د ځنګلونو د ساتنې په پار شپږ ټولنې جوړول هغه چارې دي، چې د ځنګلونو د بیارغونې او خوندیتوب په برخه کې ترسره شوي دي.

دغه راز ۱۳۹۹یم مالي کال کې دننګرهار د نارینه و بزګرانو ترڅنګ ښځینه و بزګرانو ته هم پاملرنه شوې او د کرکېله په برخه کې د ښځینه و بزګرانو د ونډې زیاتولو په پار هم یوشمېر پروژې پلي شوي دي. انعام الله صافی وایي، چې ښځینه و بزګرانو ته ۲۵۶ وړې شنې خونې جوړې شوې، په شنوخونو کې د کرکېلې او حاصل ټولولو په برخه کې د ښځینه بزګرانو روزل، پر ښځینه و بزګرانو د شنوخونو اړونده توکي وېشل، ۲۶۰ مېرمنو ته کورني باغچې جوړول ، پر ۱۰۰ مېرمنو د سبو او مېوو وچوونکي دستګاوې ویشل، پر ۶۰۰ مېرمنو د سبو او مېوو د پروسس او حفظ الحصي توکي وېشل او پر ۳۶۰ مېرمنو د رُب، اچارو، مربا ، اوکیچپ جوړولو توکي وېشل هغه کړنې دي، چې په دې ولایت کې د کروندګرو مېرمنو د ملاتړ په پار پلي شوي دي.

د یادو کړنو ترڅنګ ۹۹یم مالي کال کې ددې ولایت د کروندو خوندي کولو په پار هم پراخ پروګرامونه ترسره شوي دي. صافی وایي، چې د ملخانو، او نباتي کنو د کنټرول په پار ۱۱ ولسوالیو کې سروې ترسره شوي او یوزر او ۱۰۰ لیټره کیمیاوي درمل ورکړل شوي او دغه راز دصحرایي ملخانو د کنټرول په موخه ددې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۴۵۰ هکټاره ځمکه ددوی له شتون څخه پاکې شوي دي.

انعام الله صافی زیاته کړه، چې د ننګرهار دکرنې ریاست دڅېړنیز مدیریت له خوا ۴۰ تجربې تر څېړنې لاندې نیول شوې وې، چې ۱۷ تجربې یې د غلو دانو داصلاح په موخه وه او دغه راز دمېوو کلکسون له لارې بزګرانو ته د پنځه ډوله سرو املوکو ثمرخېلي، واړه بیدانه، روجوبریلانټ، جاپاني او صواتي املوکو سپارښتني وشوې. د ننګرهار ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، ۹۹یم مالي کال کې ددې ولایت د مالدارۍ د پراختیا په پارهم د پام وړ کړنې ترسره شوي دي. د کانګو تبې ناروغي د مخنیوي په پار پراخ کمپاین ترسره شوي، د طاعون پر وړاندې د مبارزې په پار ۱۷۰ زره ډوزه واکسین پرڅارویو پلي شوي، ۳۲ زره غواوې د نسل د اصلاح په موخه القاح شوې، ۵۰ زره دڅارویو نمونې د ناروغیو په لابراټوارونو کې تشخیص شوې دي او په دې سربېره ننګرهارکې دکرنې‌اومالدارۍ په برخه کې د پانګونې دجذب په موخه دوه ورځنۍ کنفرانس په لاره اچول شوې وه، چې د یاد دکنفرانس په وروستۍ ورځ ۴۳ د لېوالتیا هوکړه لیکونه او قراردادونه لاسلیک شول.

د ننګرهار ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، په ۱۳۹۹یم مالي کال کې په ننګرهار ولایت د ابولګولو په برخه کې هم د پام وړ کارونه شوې او په یاده برخه کې په شینوارو ولسوالۍ کې د اوبو ۱۰بندونه، سربندونه او داوبوکانالونه جوړې شوې او ددې ترڅنګ په کامه، بهسود، کوزکونړ اوګوشتې ولسوالیو کې د اوبولګولو په برخه کې ۲۵ پروژې پلي شوي دي.

د ننګرهار د کرنې رییس زیاته کړه، چې ۹۹یم مالي کال کې په ننګرهار ولایت کې د کرنیزو محصولاتومدیریت پروژې په اډانه کې ۳۶۷ د پیازو او ۱۲کچالو زیرمتونونه جوړې شوي دي، چې د بزګرانو زرګونه متریک ټنه محصولات خوندي کوي.

د دغه ریاست د ترسره شویو پراختیایي پراګرامونو څخه سلګونه نارینه او ښځینه کروندګر او مالداران برخمنې شوي دي، چې پدې سره په یاد ولایت کې کرنیز سکټور ورځ تر بلې د پراختیا په حال کې دی.



لیکوال: شجاع‌الحق نوری
ژباړنه: جمه‌ګل اشرفي

# لغمان کې د پیازو ۱۹۰ زېرمتونونه ګټې اخیستنې ته چمتو شوي دي

د لغمان دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې په دې ولایت کې دکرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې د پیازو د ۱۹۰ زېرمتونونو رغنیزې چارې بشپړ او ګټې اخیستنې ته چمتو شوي دي.

دلغمان دکرنې رییس محمدجمیل خوشحال وایي، چې د پیازو یاد زېرمتونونه د لغمان ولایت مرکز مهترلام ترڅنګ ددې ولایت په قرغیو، الیشنګ او الینګار ولسوالیو کې جوړ شوي دي.

له دغو زېرمتونونو څخه برخمن شوي بزګران، د کرنې وزارت د یاد اقدام هرکلی کوي او وایي، چې تر دې وروسته دوی په دې توانیږي، چې زرګونه متریک ټنه پیاز زېرمه او په مناسب وقت کې یې بازار ته د پلور په پار وړاندې کړي.

د قرغیو ولسوالۍ د احمدزیو د کلي یوتن بزګر چې دکرنې وزارت له خوا ورته د پیازو یوه زېرمه تون جوړه شوې ده وویل: «له دولت څخه مننه کوم، چې دا زېرمه تون یې راته جوړه کړې ده، ددې زېرمه تون رغنیزې چارې په درو میاشتو کې پشپړې شوې او په کې یوشمېر کسان په کار بوخت ول. مخکې مو د پیازو د ساتنې په پار مناسب ځای نه درلود او په دې برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ و، ځکه د حاصل ټولولو پر وخت مجبور وو، چې خپل محصولات په ټیټه بیه خرڅ کړ، که به مو نه خرڅول حاصلات مو خوساکېدل او زما او نورو بزګرانو لپاره چې پیاز یې کرل لوی زیان و.»

دقرغیو ولسوالۍ بل بزګر محمدولي دی، چې له دې پروژې څخه برخمن شوی دی. هغه وایي: «د لغمان د کرنې له ریاست څخه مننه کوم، چې د پیازو دا زېرمه تون یې راته جوړ کړ. درې جریبه ځمکه کې مې پیاز کرل خو د قناعت وړ عواید مې نه ترلاسه کول. اوس غواړم چې د خپلو پیازو کروندې زیات کړم او په دوه جریبه نورو ځمکو کې هم پیاز وکرم، ځکه چې اوس کولای شو چې خپل محصولات په دې زېرمه تون کې وساتو او په مناسب وقت او مناسبه بیه یې خرڅ کړو.»

ددې بزګر په خبره، ددولت دا چارې د خلکو د ژوند وضعیت ښه کولو او له بهره د وارداتو په ټیټولو کې رول لري. هغه وویل: «کولی شو، چې خپل محصول د شو میاشتو لپاره دلته وساتو، په دې کار سره کولی شو، چې د خلکو اړتیاوې پوره کړو او د بهرنیو محصولاتو د وارداتو مخه ونیول شي. کله چې په کوردننه باکیفیته وطني محصولات موجود وي، اړتیا نشته چې خلک په لوړه بیه له بهر وارد شویو سبو څخه ګټه پورته کړي.»

د پیازو د یادو زېرمتونونو د جوړولو ټولیز لګښت څه باندې ۷۲ میلیونه افغانۍ ده، چې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې د لغمان دکرنې ریاست له خوا پلي شوي دي. په پام کې ده، چې په راتلونکې کې هم په دې ولایت کې ورته نورې پروژې پلي شي.

لغمان د پراخو اوبیزو سرچینو او حاصل خېزو ځمکو په درلودو سره د افغانستان یو له کرنیزو ولایتونو څخه دی، چې د کال په ټولو موسمونو کې په کې کرکېله کیږي. د الیشنګ، الینګار او کابل سیندونه ددې ولایت تر ټولو سترې اوبیزې سرچینې دي. په همدې موخه د لغمان ولایت ډېری ځمکه کې کرکېله کیږي او تر ډېره په کې سابه کرل کیږي. لغمان د افغانستان د سبو د پلازمېنې په نوم هم یادیږي.